# د صديق خټک په شاعري د خوشحال خان خټک اثرات

## Poetic Impact of Khushal Khan Khatak on Sadiq Khatak Poetry

Dr. Kiran Saneen★
Muhammad Khatir★★

**Abstract:**

Sadiq Khattak is the nephew of Khushal Khan Khattak and the son of Faqeer Jameel Baig. He is the contemporary of Rehman Baba and Abdul Qadir Khan Khattak. He belongs to the Golden Period (Zareen Dawar) and his poetry shows the influence of Khushal Khan Khattak. And I think Sadiq khattak is the first and the last poet of the Golden period who writes poetry in the style of Khushal Baba.

**Key words**: Khushal Khattak, Saddiq Khattak, Poetry, Impacts, Stylistic School of Thought

صديق خټک د فقير جميل بېگ (۱۰۲۴ھ ۱۱۱۶ھ) زوے دے (1).د مياوکيل شاه فقير خېل په اند صديق په ۱۰۶۰ھ کښې پېدا شوے دے (2) .د نورو شاعرانو غوندې د صديق خټک د سبک په اړه هم څېړنکاران په يوه خولۀ نۀ دي:

لکه عبدالحئ حبيبي ئې کله د رحمان بابا د سبک شاعر بولي او کله د هندي سبک:

"په پښتانۀ شعرا کښې د متوسطې طبقې شاعر او د رحمان له پېروکارانو څخه ګڼل شوے دے، او په کابل مجله کښې د حميد غوندې نازک خيال شاعر بلل شوے دے(3)"

د صديق د سبک په باب پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت ليکي چې:

"زما تر فهمه صديق د رحمان بابا پېروکار خو وۀ، مګر د حميد بابا د نازک خيالۍ چې د هندي سبک له اثره وۀ، پرې هيڅ اغېزه نۀ شي ليدے، البته دومره وينا ضرور کوم، چې صديق په کلاسيکي شاعرانو کښې د رحمان بابا، محمدي صاحبزاده، عبدالحميد مومند، علي خان او معزالله خان مومند د درجې شاعر ثابتېدے شي(4)"

ميا وکيل شاه فقير خېل د زبېر حسرت نظر ردوي، او دے ئې د حميد مومند او کاظم خان شېدا غوندې نازک خياله شاعر بولي، د صديق د نازک خيالۍ په اړه ليکي چې:

★ Assistant Professor, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsada
★★ BS. Pashto Student, Department of Pashto, Islamia Collge Peshawar

"کومه نازک خیالي او فکر او فن چې د عبدالحمید مومند او کاظم خان شېدا په شاعرۍ کښې ښکاري، نو د صدیق په اشعارو کښې د فکر او فن په لحاظ پوره نزاکت او او رومانیت نه ډک غزلونه هم موندلے شي، چې په نازک خیالۍ کښې د عبدالحمید او شېدا سره په یو صف کښې ودروي(5)"

لاکن تر څو چې زما نظر دے، د صدیق خټک د شعر جوړښت نۀ خو د رحمان بابا د سبک غونډې ساده او اسان دے او نۀ د حمید بابا(هندي سبک) د سبک غونډې پېچلے دے۔

د جوړښت او موضوع په دواړو حوالو د خوشحال نه متاثره دے.

په زرین دور کښې یو شاعر هم مونږ داسې نۀ شو پېدا کولے، چې هغه مونږ په پوره توګه د خوشحال د سبک شاعر وبولو، نۀ د خوشحال د کورنۍ شاعرانو او نۀ نورو د خوشحال سبک خپل کړے شو.

په دې حواله ډاکټر محب وزیر او راقم الحروف(خاطر پاڅون) په یو مقاله کښې لیکي چې:

"هسې خو پښتو کښې خوشحال خان خټک د یو بیل سبک خاوند بللے شي، لاکن پته نشته، چې ولې بیا د دۀ زامنو، نمسو، کړوسو او نورو پېروکارانو د دۀ د سبک یا د دۀ د شعر موضوع په دومره موثره توګه خپله نۀ کړه، د خوشحال د قبیلې شاعرانو خوشحال ډېر ستائیلے دے، او په هره حواله ئې ستائیلے دے، د شاعرۍ خان ئې بللے دے، خو د خوشحال سبک ئې خپل نۀ کړے شو، څوک د رحمان د سبک پېروکاران شول، او څوک د هندي سبک پېروکاران وګرځېدل(6)"

صدیق یوازینے شاعر دے، چې د خوشحال سبک ته تر نورو ټولو شاعرانو ډېر ور نږدې دے، په دې حواله ډاکټر محب وزیر او راقم الحروف(خاطر پاڅون) مخکښې لیکي چې:

"که د خوشحال په کورنۍ کښې چا په اصلي معنو کښې د خوشحال سبک خپل کړے دے، هغه د خوشحال خټک ورارۀ صدیق خټک دے، مونږ یوازینے شاعر صدیق د خوشحال د مکتب شاعر بولو. هغه جرت، هغه رنګ، هغه اسلوب هغه هر څۀ چې خوشحال وئیلي، صدیق وئیلي دي، که خوشحال په باغ او بهار ژوندے دے، بیا صدیق هم په سپرلي او ګلاب مړ دے، که خوشحال تصوف ته سر ورښکاره کوي، هم هغه طرز او اسلوب د ځان پېژندګلوے ګرځوي(7)"

دلته مونږ هغه شعرونه راوړو، چې صديق هغه خيال، فکر، موضوع يا جوړښت کټ مټ له خوشحال خان راخيستلے وي.

صديق خټک خوشحال خان په ژور نظر لوستلے دے، او د خوشحال د غزل ځواب ئې وئيلے دے، د خوشحال مشهور غزل دے چې:

که دا ستا سترګې را وجار باسم ځان ته
له ښادۍ به نوره شا کړم و جهان ته(8)

او صديق ئې بيا داسې ځواب وائي:

چې په خيال په کبر ګوري و اسمان ته
ښايسته په خپل ښايست غره دي ځان ته
دا غزل د "خان" د دې غزل ځواب دے
"که د ستا سترګې را وجار باسم ځان ته(9)"

او کله کله خو ځان تر خوشحال(کرلاڼ) او د رحمان(سړبن) نه هم لوے ګڼي، او وايي چې زما غونډې وئيل يوۀ هم نۀ دي کړي:

سړبن کرلاڼي دواړه پښتانۀ هم
دا وئيل د هيڅ يوۀ په کتاب نشته(10)

د خوشحال يو بل ډېر مشهور غزل دے، چې له هغې غزل يوازې دوه شعره راخلو:

په رموز د عاشقانو عاشقان يوهېږي بس
په طلب د طالبانو طالبان يوهېږي بس
په ضمير د نخل بندو نخل بند سړے خبر وي
په تصوير د نقاشانو نقاشان يوهېږي بس(11)

او همدې ته کټ مټ ورته غزل صديق هم ليکي، چې د خوشحال د غزل تنده در ماته کړي:

عاشقان به په عاشق يوهېږي بس
لايقان به په لايق يوهېږي بس
زاهدان په زاهدانو قيمتي وي
فاسقان به په فاسق پوه ېږي بس(12)

د خوشحال يو ډير مشهور او د تصوف تر ټولو وتلے شعر چې امير حمزه خان شينوارې پرې درست کتاب ليکلے دے، وائي چې:

په هر څۀ کښې ننداره د هغه مخ کړم
چې د ډيرې پېدايې نه ناپديد شۀ(13)

او همدې موضوع ته ورته د صديق يو ډېر جالب شعر دے چې:

چې په هر لورې نظر کړم اشنا وينم
په باطن کښې اشنا نور د معرفت را(14)

خوشحال ښکلو ته ګورې، او وايي،چې سترګې هم دې لره پېدا دي چې ښکلې پرې وګورو:

ولې راته وائې چې په ښکليو نظر مه کړه
سترګې چې پېدا دي خو ديدار لره کنه؟(15)

او دا خبره صديق په څومره ښکلي انداز سره کوي:

سترګې هم هغه دي چې ديدن کاندي د ښکلي
ښکلي چې نۀ ګوري کسي څۀ فايده و دۀ ته(16)

او دا خبره صديق يو بل ځاے هم کوي، چې ديدن ته ځکه تلوسه کوم، چې سترګې خو ديدن ته پېدا دي:

ما به هم له ښۀ ديدنه صبر وکړ
که مې نۀ وے پېدا سترګې و کتل ته(17)

دا بره شعرونه سړي ته د خوشحال هغه شعر هم ورياد کړي چې:

ما په ځان او په جهان کښې دا دوه څيزه دي وکښلي
په ځان کښې دواړه سترګې په جهان کښې واړه ښکلي(18)

خوشحال ورته ژاړي، سپينه خولۀ ترې غواړي، او هغه ور پورې خاندي، څومره عجبه ماحول دے:

په ژړا مې غښې خواست د سپينې خولې کړ
په خندا ئې وې چې څۀ کا دا سړے؟(19)

صديق هم په ژړا ژړا بوسه ترې غواړي، او مشعوقه ئې هماغه خبره ورته کوي، لکه څرنګه چې ئې خوشحال ته کړې وه:

په ژړا مې ورته وې بوسه به راکړې؟
په خندا ئې راته وې چې وار کړه شي به(20)

خوشحال ته ځکه د يار شونډې خوند ورکوي، چې ځان طوطي ګڼي، او طوطي شکرې خوري:

دواړه شونډې د خوشحال خټک په خولهٔ کړه
و طوطي ته ورکوي خلق شکرې(21)

او کټ مټ دغه غوښتنه صديق هم کوي:

خوار صديق ګڼه طوطي شو
ورته بويه لب شکر ستا(22)

د خوشحال يو ډېر خوندور شعر چې خپل مشعوق ته وايي، چې زهٔ د وفا په ميدان کښې هر امتحان ته غاړه ږدم، او که تهٔ زما سر غوڅول غواړې، غوځ ئې کړه، ځکه چې د قلم کله سر غوڅ شي، هغه بيا هله ښکلي ليکل کوي:

راشه سر مې پرې کړه لا به ښهٔ شم په وفا کښې
خود په دا پوهېږې قلم لا ښهٔ له قطه(23)

او خوشحال بل ځاے هم دا خبره کوي،دا ځکه چې د خوشحال ډېر وخت په ليکلو تېرېدلو:

د خپل يار و تېغ ته سر کښېږده خوشحاله
د قلم خوبي هاله ګڼه چې قط شي(24)

او ببخي دې ته ورته خبره صديق هم کړې ده:

که وفا راځخه غواړې سر مې پرې کړه
کاتب خط ښهٔ کښي هاله چې قط قلم کا(25)

د خوشحال يو بل ډېر جالب شعر چې مرګ قبلوي، خو منت او سوال او زاري نهٔ قبلوي:

د منت دارو که مرم پکار مې نهٔ دي
که علاج لره مې راشي مسيحا هم(26)

صديق شکر وباسي، چې شکر چې د خدا ے د منت نه اخوا د بل د در منت بار نۀ شوم، دا ځکه چې صديق د خوشحال ميراثي او ادبي وارث د ے:

هزار شکر منت بار د خپل خاوند يم
چې په ما باندې چا نۀ کړ منت بار درست(27)

د صديق يو بل غزل چې تۀ به وائې د خوشحال د رزميه شاعرۍ خلاصه ئې پکښې بيان کړې ده. د دې غزل هر شعر د خوشحال د سبک نه متاثره د ے.

خوشحال د مغل بخښنو نه په ورکه ځان ورکوي، پښتانۀ دې په غربت کښې لوږې تندې زغمي، خو د مغل ښېګړه دې نۀ قبلوي، ځکه خو خوشحال وايي:

پښتانۀ لره شړې انډړې بس دي
نۀ په فکر د مسند نۀ د توشک يم
ازادي ده په ساده سپينه جامه کښې
خلاص له غمه د زربفت او د مېلک يم
د وښو جونګړې هسې راته ښې شوې
وايم ناست په محلونو د اهک يم
که اوګره د بټو شته په شلومبو سپينه
د مغلو پلاو پاتو ډېر پرې ډک يم(28)

او همدا خبره د خوشحال وراره صديق هم کوي، هغه هم د مغلو د بخششونو نه سر ټکوي، او خړ ساده ژوند تر محلونو لوړ ګڼي:

توره شړۍ ښۀ ده نيمه لنګ نيمه په سر
ورک شه د مغلو د بخشش منډيل په سر
پړے تر ملا ښۀ د ے چې دې لور په ډوډۍ لک وي
نۀ زري قصب چې تۀ پرې لک لرې خنجر
مه خوره زبړ بريان منتجينه په منتو کښې
ځار تر اوربشينې چې پرې اينښے وي ټېپر(29)

خوشحال پښتانهٔ ځکه کنځي، چې دوے علم نهٔ لري، پوهه نهٔ لري، د مغل په وړو نوکريو وغول ېږي، او د هغې په بدل کښې د سرو زرو وطن مغلو ته حواله کړي:

پښتانهٔ په عقل پوهه څهٔ ناقص دي
کوته سپي د قصابانو د جوس دي
اوښ له باره سره کور ته وځ ورغلے
په ولجه د اوښ د غاړې د جرس دي
پاچاهي ئې د مغل په زرو بايله
د مغل د منصبونو په حوس دي
سر ئې هورې کندهار بل ئې دمغار دے
تر دا منځ همه ميشتهٔ واړه عبس دي(30)

ښخي همدغه خبره صديق ځومره په ښکلي انداز سره کوي:

واړه لېوني شول پښتانهٔ چې پسې ځغلي
ننگ وته ئې شا کړه د مغلو غواړي زر
ځينې که منصب خوري خو لا کور په خپل وطن دے
سپے شو د مغلو حمزه گوره گېډي خر
حال د پښتنو د ننگ په کار کښې راښکاره شو
واړه هيڅ کاره دي بې حيا نامرد بشر(31)

پښتانهٔ خو خوشحال پېژندلي وو، چې په خپله پښتو سم نهٔ يوهېږي ، بيا به په ترکي څنگه پوهه شي؟ د افغانانو سره په پښتو خبرې کوه، ترکي ئې ځکه ياده کړې، چې مغلو د ځان سره راوړې وه، خوشحال وائي:

چې په خپله افغاني ژبه نادان دے
په ترکي خبرې څهٔ وائې افغان ته؟(32)

او همدا خبره صديق په همدغي ستهايل کښې کوي چې:

زهٔ پښتون لا په پښتو ژبه کښې اړ شم
تهٔ وما وته ترکي خبرې څو کړې(33)

خوشحال بل ځاے وايي، چې په پښتو هم شعر ليکلے شم، او په فارسي هم. خو په پښتو ئې ځکه ليکم، چې پښتو مې مورنۍ ژبه ده:

پارسي شعر مې هم ذده، سليقه لرم د دواړو

پښتو شعر مې خوښ شو هر څوک خپل ګڼي ښاغلي(34)

صديق هم په دواړو ژبو شعر ليکي، او وائي:

که تهٔ ښهٔ فهم پرې کړې وايم صديقه

تر فارسۍ به شعر لا ښهٔ په پښتو کړې(35)

دا رنګه مونږ د خوشحال او د صديق په لسګونو نور شعرونه هم پيش کولے شو، چې يوهٔ بل ته سره ورته دي.

له دې نه په دې نتيجه رسېږو، چې صديق د خوشحال د سبک کلک او تکړه غړے دے.

اخذلیکونه


1- فقیرخېل،وکیل شاه، میا ، د صدیق دېوان، ترتیبونکے،میا وکیل شاه فقیرخېل،دانش خپرندویه ټولنه،2015,مخ،4
2- همدغه، مخ: 7
3- د رحمان بابا فکري مکتب،پروفېسر ډاکتر زبېر حسرت، پښتونخوا مطالعاتي مرکز باچاخان پوهنتون چارسده، 2013ء,مخ،112
4- همدغه، مخ:113
5- فقیرخېل،وکیل شاه، میا ، د صدیق دېوان، مخ: 24
6- مرجان،اصل،ډاکټر(محب وزیر)پاڅون، خاطر،د ایچ اي سي ریکنائزډ جرنال، پلټنه،جلد اول، ګڼه اول، جنوري/جون۲۰۲۲،پښتو څانګه،ملاکنډ پوهنتون، خیبر پښتونخوا پاکستان، مخ:69
7- همدغه، مخ:69,70
8- د خوشحال بابا کلیات،سمونه،ډاکټر یار مغموم خټک،یونیورسټي بک اېجنسي خیبر بازار پېښور،2016ء، مخ،515
9- د صدیق دېوان، مخ: 208
10- همدغه، مخ:206
11- د خوشحال بابا کلیات،مخ: 587,588
12- د صدیق دېوان، مخ: 156
13- د خوشحال بابا کلیات،740
14- د صدیق دېوان،مخ:62
15- د خوشحال بابا کلیات، مخ: 706
16- د صدیق دېوان،مخ:200
17- همدغه،مخ:202
18- د خوشحال بابا کلیات، مخ: 161
19- همدغه،مخ:852
20- د صدیق دېوان،مخ:187

21- د خوشحال بابا کليات، مخ: 542
22- د صديق ديوان،مخ: 43
23- د خوشحال بابا کليات، مخ:601
24-همدغه، مخ:813
25- د صديق ديوان،مخ: 63
26- د خوشحال بابا کليات، مخ:660
27- د صديق ديوان،مخ:119
28- د خوشحال بابا کليات، مخ:177
29- د صديق ديوان،مخ:140
30- د خوشحال بابا کليات، مخ:780
31- د صديق ديوان،مخ:141,142
32- د خوشحال بابا کليات، مخ: 515
33- د صديق ديوان،مخ:302
34- د خوشحال بابا کليات، مخ: 162

References:


1. Faqir khel, Wakeel Shah, Main, Da Sadiq Dewan, Tartebwanky Main Wakeel Shah, Faqir Khel, Danish Khpranoya Tolna, 2015, March 4:
2. Hum Dagha, Makh 7:
3. Da Rahman Baba Fekree Maktab, Professor Dr. Zubair Hasrat, Pakhtoonkhwa Mulaleati Markaz, Bacha Khan University Charsadda, 2013, March 112:
4. Hum Dagha, Makh 113:
5. Faqir Khel, Wakeel Shah Mian, Da Sadiq Dewan, makh 24:
6. Marjan, Asal, Dr. (Mohib Wazir)/Pasoon, Khatir, da HEC recognized Journal, Palatana, Jeld awal, Ganra Awal, January/ June 2022, Pakhto Sanga, Malakand Pookhtoon, Khyber Pokhtonkhwa, Pakistan Makh 69:
7. Hum Dagha, Makh 69, 70:
8. Da Khushal Baba Kulyat, University Book Agency Khyber Bazar Pekhwar, 2016, Makh 515:
9. Da Sdiq Dewan, Makh 208:
10. Hum Dagha, Makh 206:
11. Da Khushal Baba Kulyat, March 588, 587
12. Da Sadiq Dewan, Makh 156:

13. Da Khushal Baba Kulyat, 740:
14. Da Sdiq Dewan, Makh: 62:
15. Da Khushal Baba Kulyat Makh: 706
16. Da Sadiq Dewan Makh: 200
17. Hum Dagha, Makh 202:
18. Da Khushal baba Kulyat, Makh 161:
19. Hum Dagha, Makh 852:
20. Da Sadiq Dewan, Makh 187
21. Da Khushal Baba Kulyat, Makh 542:
22. Da Sidiq Deewan, page 43:
23. Da Khushal Baba Kulyat page 601:
24. Hum Dagha, Makh 813:
25. Da Sidiq Dewan, page 63:
26. Da Khushal Baba Kulyat, page 177
27. Da Siddiq Dewan, page 119:
28. Da Khushal Baba Kulyat, page 177
29. Da Sidiq Dewan, page 140:
30. Da Khushal Baba Kulyat, page 780
31. Da Sidiq Dewan, page 141-142:
32. Da Khushal Baba Kulyat, page 155
33. Da Sidiq Dewan, page 302:
34. Da Khushal Baba Kulyat, page 162